د ټرون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا

موضوع: د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت لپاره د امنیتي کمرو وسایل او تجهیزاتو چمتو او تدارک کولو پروژې د اول او دویم لاټ ټرون د بصر تجارتي شرکت ته د ورکولو د پرېکړې خبرتیا.

د ملي تدارکاتو ریاست د (20580) شمېرې او 1447/12/27 نېټې د متحدالمال د دویمې مادې د (6) بند پر بنسټ ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري څو د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت لپاره د امنیتي کمرو وسایل او تجهیزاتو چمتو او تدارک کولو پروژې د لومړي او دویم لاټ ټرون د بصر تجارتي شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 67601 شمېرې جواز لرونکې او اصلي استوګنه یې د کابل ولایت، 10 ناحیه د حاجي یعقوب څلورلارې شهر نو کې ده، د لومړي لاټ د ټرون ټولیزه بیه 2,876,000 دوه میلیونه اته سوه او شپږ اویا زره افغانۍ او د دویم لاټ د ټرون ټولیزه بیه 1,477,000 یو میلیون څلور سوه او اوه اویا زره افغانۍ ده.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر پنځو (۵) کاري ورځو پورې، په لیکلي بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د ټرون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، ټرون به نه عقد کېږي.